مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید
۲۰۲۵/۱۱/۰۴

# د افغانستان او پاکستان شخړه:

## ګډ تورونه نه، بلکې ګډ ګامونه

عجب او د حیرت وړ منطق دی! د پاکستان د دفاع وزیر خواجه آصف اوس له افغانستان څخه غواړي چې د نوموړي په هېواد کې د سولې ضمانت وکړي. دغه غوښتنه له خورا ژور تمثیل څخه ډک تناقض ننداره ته وړاندې کوي: هغه هېواد چې د «ستراتېژیکو شتمنیو» په نوم د وسلوالو ډلو د روزلو، پاللو سمبالولو او ستایلو اوږد او تاریخي شالید لري. اوس له هغه هېواد څخه د خپل هېواد د خوندیتوب لپاره د ضمانت غوښتنه کوي چې د هغوی د ناوړه تګلارو اوږدمهاله قرباني پاتې شوی دی. داسې ښکاري چې تاریخ د سمون او بدلون په لوري نه، بلکې داخل نورو ته د تراژیدي صادرولو د طراح په کور کې د تراژیدي د تکرار کېدو پړاوونه وهي.
اسلاماباد د دې پرځای چې د ستونځې ریښې وڅېړي، غواړي د خپل هېواد د سولې ضمانت له افغانستان څخه واخلي. خو هېروي چې رښتینی ثبات د خپلو تګلارو او کړنو له ارزولو، حساب‌ورکولو او له تېرو تیارو تګلارو سره له پرېکون پرته نه ترلاسه کېږي. د استانبول په مذاکراتو کې د «مشروط اوربند» نوم، که څه هم ظاهراً ډیپلوماسي بڼه لري، خو د هغه پخواني او پرسوده ذهنیت نښه ده چې افغانستان ته لا هم د یو خپلواک ګاونډي په توګه نه، بلکې د پاکستان د امنیتي معادلو د یو لابراتوار په توګه ګوري.
اوربند چې د شرطونو او شکونو پر بنسټ ولاړ وي، اصلاً اوربند نه دی؛ دا یوازې د زړو عادتونو او نویو غلط فهمیو تر منځ موقتي تمځای دی. د استانبول خبرې د تورونو د تکرار لپاره نه وې، بلکې یوه موقعه وه، ښایي د تېرو اوږدو فرصتونو وروستۍ کړکۍ، چې د دواړو ملتونو تر منځ د باور د بیا رامنځته کولو لپاره پیل شي. که پاکستان په دغه هکله همکاري د یوه ګډ مسؤلیت په توګه نه بلکې د یو احسان په توګه وړاندې کوي، نو دا به د تېرو پنځوسو کلونو زخمونه نور هم ژور کړي، هغه وختونه چې نیابتي جګړې د ګډو مسئولیتونو د منلو پر اصولو غالبې شوې.
پاکستان د تل لپاره د وسلوالو د تګ راتګ سناریو داسې وړاندې کوي لکه دا چې له افغانستان څخه پیلېږي او همدلته پای ته رسېږي. خو دغه حقیقت پټوي چې د هغوی په خبره، کله چې دغه جنګیالي د ډیورنډ په کرښه اوړي، نو د پاکستان بېلابېلو سیمو ته خپرېږي او بیا ښایي یو شمېر یې بېرته افغانستان ته واوړي. نو پوښتنه دا ده: د پاکستان د امنیتي ځواکونو دنده په دغه بهیر کې څه ده؟ له دې سره سره چې په معاصرو وسائلو او لوړ عسکري مهارت دعوې کوي، نو ولې په دغه برخه کې له مسوولیت څخه ځانونو ته برائت ورکوي. که هغوی نه یوازې دا چې د جنګیالو د تګ مخه نشي نیولای ، بلکې د هغوی بېرته ستنېدنه هم نشي مهار کولای نو افغانستان ته ولې د پړې ګوته نیول کېږي ؟ د خپل مسئولیت پټولو او پر نورو باندې د تورونو په اچولو سره نه یوازې اعتماد له منځه ځي، بلکې هغه اخلاقي اساس هم کمزوري کېږي چې د سولې پر بنسټ ولاړ وي. لکه څنګه چې د ډیورنډ کرښه دوه غاړې لري، همداسې د مسئولیت کرښه هم دوه خواوې لري. که پاکستان په دغه تړاو ملحوظات او له پردي اړخ سره ژمنې لري، نو افغانستان هم د پاکستان له خاورې څخه ژورې اندېښنې او ملحوظات لري .
افغانستان، سره له دې چې د جګړو، یرغلونو او سیاسي بدلونونو له اوږدې او ځپونکې سلسلې تېر شوی، تل چمتو پاتې شوی چې د برابرو اصولو، دوه اړخیزو میکانیزمونو او د یو بل په کورنیو چارو کې د لاسوهنې نه کولو پر بنسټ خبرې وکړي. خو دَ پاکستان لخوا د شرطونو وړاندې کولو ژبه او ناوړه لهجه دغه رښتینی روحیه کمزورې کوي. اوس داسې ښکاري لکه سوله چې د متقابل تفاهم او دوه اړخیزې همکارۍ له لارې نه بلکې باید د پاکستان د خوښې له دروازې څخه تېره شي. که اسلاماباد واقعي ثبات غوښتی باید منلې یې وای چې هغه بلا چې نن هغوی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځوروي، د افغانستان له خاورې څخه نه، بلکې د پاکستان له هغو دفترونو څخه راټوکېدلې چېرته چې د لنډمهاله ګټې د تلپاتې سولې ځراغونه ووژل.
د خپلې امنیتي ستونځې په تړاو د افغانستان ملامتول نه عادلانه قضاوت دی او نه هم هوښیارانه پرېکړه؛ دغه ذهنيت یوازې په سیمه کې د ګډ شعور راوېښېدل او ګډ مسئولیت منل ځنډوي. اوس وخت د پاروونکو بیانونو نه، بلکې په صادقانه توګه د عملي ګامونو پورته کولو دی. د استانبول خبرې باید د یو مشروط ځنډ په توګه نه، بلکې د داسې سیمې د کیسې د بیا لیکلو تعبیر وګڼل شي چې کلونه کلونه د وېرې او بې‌باورۍ تر منځ ایساره پاتې شوې ده. دواړو هېوادونو ته اوس یو پر بل باندې د پړې اچولو نه، بلکې د یو ګډ هوډ اړتیا ده. داسې ذهنیت رامنځته کول اړین دي چې سوله نه وېشل کېږي او نه هم تېل کېدای شي، بلکې د رېښتینولي ګډ کار او له جګړو کولو څخه ورهاخوا د نورو سوله ییزو ګامونو پورته کولو په پایله کې راټلای شي.
د څو اونیو له بې‌باورۍ او د پاکستان لخوا له اخطارونو ګواښونو او پاروونکو بیانونو وروسته افغانان اندېښمن دي خو د وارخطايي ځرک نه لیدل کېږي. افغان ولس د نومبر شپږمه نېټه په استانبول کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ راتلونکو خبرو ته هیله مند دي. چاروګي او شنونکي دواړه دا خبرې د یو نادر فرصت په توګه تعبیروي او فکر کوي چې ممکن دواړه خواوې اوس له پخوانیو ملامتیو ورهاخوا د ستونځو د حل لپاره په بنسټیزو ګامونو پورته کولو، یو بل ځمکني او هوايي حریم ته په درنښت او د برابرۍ پر اصولو ولاړې اړیکې رامنځته کړي.
د ډېرو افغانانو لپاره د استانبول خبرې یوازې یو تاکتیکي وقفه نه وه؛ بلکې یوه هیله وه چې افغانستان به د پاکستان د امنیتي محاسبو د یوه فکتور په توګه نه بلکې د مساوي شریک په توګه واورېدل شي. سره له دې چې دواړه خواوې د پنځو لسیزو راپدېخوا د ډیورنډ کرښې پر سر د وسلوالو د تګ راتګ په تورونو بوختې پاتې شوې دي خو واقعیت دادی چې د سیمې سوله د پاروونکو ګواښونو له ژبې څخه نه، بلکې د رښتیني تعامل له لارې بقا مومي.
خواجه آصف د اوربند دوام د کابل له هغې وړتیا سره تړلی بولي چې باید وسلوال فعالیتونه مهار کړي او له افغان حکومت څخه یې وغوښتل چې «په پاکستان کې سوله راوستونکي» شي. دا غوښتنه د اسلام‌اباد د سیاستونو ترمنځ د ژور تضاد ځرګندونه کوي. هماغه دولت چې یو وخت یې وسلوالي ډلې د نفوذ د وسیلې په توګه روزلې، اوس له هغه چا څخه له همدغو ډلو ځخه خپل خوندیتوب غوښتنه کوي چې په خپله د پاکستان د نیابتي سیاستونو قرباني شوي دي. هغه څه چې یو وخت «ستراتېژیکه ژورتیا» بلل کېده، اوس د ستراتېژیکي اندېښنې په کابوس بدله شوې ده. دا هغه سناریو ننداره ته وړاندې کوي چې کله کله د نورو د دوکه کولو او سوځولو لپاره تنظیم شوې تګلارې خپل جوړونکي سوځوي.
که څه هم د افغان پلاوي لخوا د خبرو تر پیل مخکې ځرګندوني نه دي شوې، خو د افغانستان ولس دا بهیر په محتاط ډول د هیلو او اندېښنو ترمنځ ځاري او تعقیبوي یې. افغانان دغه بهیر ته د اعتماد رامنځته کولو او د ګواښ د ژبې د بدلون لپاره د فرصت په توګه ګوري . هغه ملت ته چې د بهرنیو یرغلونو او جګړو اوږد تاریخ او روښانه شالید لري، هر رېښتینی ګام د خبرو پر لور یو اخلاقي او تاریخي ارزښت لري. اوس په دواړو خواوو پورې تړلې ده چې ثابته کړي. آیا دواړه هېوادونه به وکولای شي له خپلو تېرو سیاسي ناوړه تګلارو څخه راووزي او د باور نوي دروازې پرانیزي که نه؟
که د استانبول نوې هڅه رښتیني بریا ته رسېږي او که پاکستان په رښتیا غواړي چې په افغانستان کې د بې‌ثباتي فضا رامنځته نه کړي، نو دغه اوربند باید له شرطونو، ګواښونو او د پخوا په څېر په افغانستان باندې د پړې اچولو له تسلسل څخه راووزي او د ګډ مسوولیت په یو ریښتوني چوکاټ بدل شي. د دواړو هېوادونو ازموینه دا نه ده چې اعلامیې ولیکي یا هم تورونه تبادله کړي، بلکې دا ده چې د یو بل اندېښنو ته د غوږ نیولو، استخباراتي همکارۍ، ګډ مسئولیت او د یوبل ځمکنۍ بشپړتیا ته د درنښت میکانیزمونه رامنځته کړي. یوازې په دې صورت کې به سوله د شعار له پړاو څخه راووزي او د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته په یو عیني واقعیت بدله شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ